استقلال خپلواکی
www.esteqlaal.net

ارسالی: فیروزه وفا
شنبه ۲۸ مارچ ۲۰۲۶

# د نوي تعلیمي کال په درشل کې له طالبانو د نجونو د ښوونځیو د پرانیستلو غوښتنه وشوه




**د افغان نجونو د ښوونځیو د پرانیستلو لپاره ملي کمپاین د نوي تعلیمي کال په درشل کې له واکمن رژیم څخه وغوښتل چې د نجونو پرمخ تول ښوونځي پرانیزي.**

دې کمپاین، په یوه خبرپاڼه کې چې رسنیو ته یې استولې ویلي: « د طالبانو تر واکمنۍ لاندې د پنځم تعلیمي کال په رارسېدو سره، زموږ د ټولنې پر ګډ وجدان یو زوړ او ژور ټپ بیا تازه کیږي؛ هغه ټپ چې نوم یې د نجونو پر مخ تړلي ښوونځي دي. له بده مرغه په میلیونونو افغان نجونې لا هم له خپل مشروع، انساني او اسلامي حق څخه بې برخې دي. دا محرومیت نه یوازې د نجونو راتلونکې تیارو ته سپاري، بلکې د هېواد ملي کتې، ټولنیز ثبات، نړیوال حیثیت او سیاسي راتلونکی له جدي خطر سره مخامخوي.»

په خبرپاڼه کې د نجونو د زده کړو د مخنیوي لپاره د طالبانو د حکومت پلمې رد شوي او راغلي چې دا پلمې نه منطقي دي او نه له دین، ټولنیزو واقعیتونو او هم د معاصر ژوند له اړتیاوو سره سمون لري.

salamwatanam@gmail.com

په خبرپاڼه کې ورانديې راغلي: « د نجونو پر تعليم بنديز د بشري حقونو، ټولنيز عدالت او د اسلام د روښانه احکامو ښکاره سرغړونه ده. هيڅ دليل نه شي کولای چې دا ظلم مشروع وښيي. د دې سياست دوام به د ولس او د اوسني حاکميت لپاره ډېر درانه سياسي، اقتصادي، ټولنيز او حتی امنيتي زيانونه ولري.»

طالبانو د ۲۰۲۲ کال د مارچ مياشتې په ۲۳مه نېټه له شپږم ټولګي پورته نجونې له زده کړو په دې نوم منع کړې چې دا پرېکړه يې موقتي ده او تر بلې خبرتيا (اطلاع ثانوي) پورې دې نجونې ښوونځيو ته نه ځي.

طالبانو همداراز  د ۲۰۲۲ ميلادي کال په دسمبر مياشت کې ښځې او نجونې په پوهنتونونو کې تر بلې خبرتيا پورې له زده کړو څخه منع کړې چې پراخ غبرګونونه يې رامنځته کړي دي.

د ملګروملتو د يونسيف د تېر کال د راپور له مخې، طالبانو ۲ ميليونه او ۲۰۰ زره نجونې له زده کړو محرومې کړې دي.

د نجونو او ښځو خلاف د طالبانو پاليسۍ سبب شوې چې د دوی حکومت په نړۍ کې منزوي شي او هيوادونه يې په رسميت ونه پېژني.

salamwatanam@gmail.com